سمیع الدین افغاني ۲۰۲۰/۰۸۹/۰۵

# اتل شهید

په میرانه ئې سپرکړي خپل سینه ده
نن خوره په وطن بیا د غم څپه ده

د غلیم سره په مخامخ جګړه کي
د شهید د سر ښندنو حماسه ده

دردونکي جنازه د ځوان اتل ده
د وطن په پوله جوړه کارنامه ده

انتقام یې نن د هر یو افغان فرض دی
دا مو عهد دا مو پیمان دا مو وعده ده

نن دونیا او نړیوال پرې ښه پوهیږي
چي دا چا ده خوره کړې دا فتنه ده؟

د دونیا په هره سیمه چي وحشت دی
د ورانــکارو، دهشتګــرو دسیسه ده

ربه ته د زورواکانـــو زور زوال کړې
چا چي کړی د بل چا په حق سلطه ده

راځئ ورونو چي یو موټی یو قوت شو
چي خلاصون ته د یووالي لار کره ده

---

۵ ـ۹ ـ۲۰۲۰
م ۰ کال


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ